مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۲/۱۴

# وېښونکي شعارونه

د انجونو اوښځو مبارزو ته د هڅوني او وياړ په خاطر:

زه هغه دی وينم، چې پرله پسي درنو مبارزو ته مو خپلي اوږې ورکړي دي ،زه هاغه دی ستاسو مقاومت په خپلو مبارزو کې وينم، او ستاسو عالي همت ستايم،

زه ستاسي هلي ځلي د دي کوردلانو په وړاندی وينم، چې د تعليم ، کار او دبيان د آزادی حق اخيستلو له پاره مبارزه کوئ،

زه ستاسو غږ د کوڅو ، سړکونو، بازارونو،نه د زړه په غوږو اورم،ستاسو هغه ويښونکي غږونه چې ټوله دنيا يي په عظمت او لوړوالي سره اوري ،او نړی وال ټول بشر دوستان مو هر کلی کوي ، زه هغه غږونه د زړه په غوږو اورم ،او په خپلو سترګو وينم چې ځيني کوردلان او دتياره زړونو خاوندانو خپل غوږونه کاڼه اچولی، او ستاسو دا فريادونه نه اوري،

ستاسو هر غږ هره تعره رسا ده ،او دښمن ته زړه چاودونکی ځواب دی،ستاسو هر غږ او نعره مونږ د ښوونځيو پرانيستلواو د مکتبونو د زنګونو د غږ اوريدو ته نژدې کوی،

چې هغه زمونږ او ستاسي ګډ هدف اوآرمان دی،

ستاسي د بيداری ورکولو احساس او ستاسي مبارزې ته دي ، زمونږ سلام او درناوی وي ستاسو شهامت د درناوی وړ دی، ستاسي مبارزې به په دي اغزنو لارو کې ګلونه وشيندي ستاسي مبارزې او هلي ځلي اميد بخښونکي دي ستاسي هڅي په دي لار کې ډير درد من او قدرمن خلک ستايي،

زه خو د زړه په سترګو راتلونکی ستاسو په لاس روښانه وينم ، ستاسی دا مبارزې به هيڅ کله هيرې نه شي ،او د دنيا نورو ښځينه وو او انجونو ته به د لارې مشعل و ګرځي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ